OFFICE OF THE SUPERINTENDENT
5735 47th Avenue • Sacramento, CA 95824

ښوونې او روزنې عمومي رئيسه لیزا آلین (Lisa Allen,)

د ښوونې او روزنې د تعلیمي نصاب بورډ

Lavinia Grace Phillips
د 7 ناحیې سرپرست

Jasjit Singh
د 2 ناحیې د رئیس معاون

Chinua Rhodes
د 5 ناحیې د رئیس دوهم معاون

Tara Jeane
د 1 ناحیې سرپرست

Christina Pritchett
د 3 ناحیې سرپرست

Jamee Villa
د 4 ناحیې سرپرست

Taylor Kayatta
د 6 ناحیې سرپرست

Liliana Miller Segura
د زده کونکو د بورډ غړی

## د جنسی اړیکو صحي بشپړ زده کړه ( د کالیفورنیا د سالمو ځوانانو قانون )

**ښاغلي والدین/ساتونکی:**
**د کالیفورنیا ایالت د قانون له مخې ، د کالیفورنیا د سالمو ځوانانو د قانون له مخې، چه د جنسي اړیکو صحي بشپړه زده کړه او د HIV ناروغی نه د ځان ژغورلو لپاره لږ تر لږه د متوسطي ښوونځي د اووم ټولګي زده کونکو ته او په ثانوي ښوونځي کې یو ځلې دا لاربښووني وړاندې کیږي. دا لاربښووني شاګرد ته ډاډ ورکوي چه د خپلو والدینو او یا ساتونکو او یا هم هغه بالغ نفر سره چه د شاګرد د اعتبار وړ وي، دا د جنسي اړیکو معلومات شریک کړي. د جنسي اړیکو معلومات باید د طب له نظره او هم د شاګرد د عمر له نظره تناسب ولري. همدا ډول ټولو شاګردانو ته یو شان وړ وي. دا لاربښود په لاندې ټکو کې ضرور راټول شوی دی:**

- **د HIV معلومات او د جنسي اړیکو له امله ټولې ناروغتیاوې، چه ټولې ساري ناروغۍ پکې شامل دي، د STI/HIV ناروغیو د مخنیوي لپاره د FDA لخوا تایید شوي درملنه**
- **پرهیز یواځینی خاص لیاره ده چه د غیر ارادي حمل څخه ځان وژغورئ او په همدا ډول د STI/HIV ناروغیو څخه هم بچ پاتي کیږئ، او د جنسي اړیکو ځنډولو په هکله نور معلومات**
- **د HIV او AIDS ناروغی د ټولنې او چاپیریال په رڼا کې**
- **د حمل او جنسي اړیکو په صورت کې طبي معلوماتو او ځایونو څخه ځان خبرول**
- **د حمل په هکله معلومات، د FDA لخوا تایید شوي درملنې د شتون په صورت کې، د حمل نتیجه، د حمل په وخت کې ځان ساتنه، او د نوي زیږیدونکي ماشوم په هکله منل شوی تأمین شوی خوندي قانون**
- **د جنسي اړیکو، د نارینه او ښځینه ، او د ښځینه عادتونو د منفی تأثیر د اغیزمن کولو معلومات هم وړاندې کیږي.**
- **د صحي او ګټورو اړیکو معلومات، ضرري چلند څخه ځان ژغورل، او نا مناسب حالتونه ( د انسان قاچاق هم دې معلوماتو کې شامل دی)**

**د کوم ځای څخه خپل درسي مواد تر لاسه کړم؟**
**تاسو کولای شئ چه د لیکل شوي ټول مطالب او د کالیفورنیا د سالمو ځوانانو د کړنې قانون د( 51939 -51930) د کوډ په اساس د هر شاګرد د مکتب په ویبسایټ کې په مرکزي دفتر کې کتلای شئ. او درسي پلان د امکان په صورت کې په ډیجیټلي توګه (http://www.scusd.edu/chya) هم کتلای او هم یې اوریدلای شئ. چه دا منطقوي ویبسایټ د درسي پلان لاندې ابتدایه، متوسطه او ثانویه ټولګي بررسي کوي.**

**د درسي پلان مسؤول څوک دی؟**
**لاربښووني په عمومي ډول د اووم ټولګي زده کونکو ته د ساینسي علومو استادان او په ثانوي ټولګیو کې د بیولوژۍ او یا د ځمکې پیژندلو استادانو لخوا وړاندې کیږي. مکتبونه او ښوونکي د زده کونکو سره د Planned Parenthood په شان ټولنو سره مرسته کوي. د زیاتو معلومات لاس ته راوړلو په خاطر د خپل ماشوم د ښوونکي سره اړیکه ونیسئ.**

**آیا زه کولای شم چه خپل ماشوم له دې درسي پلان څخه وباسم؟**
**د ایالت قانون تاسو ته اجازه درکوي چه خپل ماشوم له دې درسي پلان څخه ویستلای شئ چه د جنسي اړیکو صحي لاربښود لپاره جوړ شوی دی، که تاسو نه غواړئ چه ماشوم مو د جنسي اړیکو صحي لاربښود او HIV د مخنیوي زده کړو کې برخه واخلي، نو مهرباني وکړئ ددې زده کړو څخه د ویستلو دغه ضمیمه شوی فارم ډک کړئ او د خپل ماشوم په واسطه یې د اووم ټولګي د ساینس ښوونکي ته وسپاري، په ثانویه ښوونځي کې د بیولوژي او یا د ځمکې پیژندونکي ښوونکي ته وسپاري او یا هم د ښوونځي د اداري مسؤول ته وسپاري. په یاده دې وي چه د EC 51932 مادې په اساس ځینې درسونه د ویستلو په پالیسی کې ندي شامل. دغه درسونه د نه شاملیدو په فارم کې د ستوري د نښې په واسطه روښانه شوي دي.**

**که پوښتنه او یا ملاحظه لرئ ، د زده کونکي د ښوونکي او یا د و ښوونځي د مدیر سره په اړیکه کې شئ. پوښتنه او ملاحظه د دې ویبسایټ (http://www.scusd.edu/chya) له لارې آنلاین هم راستولای شئ.**

مننه

**ایرن هینسن**
**د عمومي رئیس معاون، د تعلیمي نصاب او لاربښووني مسؤل**

Sacramento City Unified School District

# د نه شاملیدو/نه ګډون فارم (مدل سکول)
## د جنسي اړیکو صحي لاربنود
*په ډېره دقیقه توګه ولیکئ*

دا فارم د یوې رسمي اعلامیې په صورت د ځوانانو د حقوقو د ساتنې 3Rs ® په هکله ده چه د کالیفورنیا د صحي قانون له مخې جوړه شوې ده. ددې فارم د تسلمیدو څخه د مخه په آنلاین شکل درسي پلان او ویډیوګانې پدې (http://www.scusd.edu/chya) ویبسایټ کې وګورئ.
**دا فارم د ډکولو څخه وروسته د ښوونځي مدیر او یا د زده کونکي ښوونکي ته وسپارئ.**

د ښوونځي نوم: ____________ د ښوونکي نوم: ____________

زه، ____________ ( مور ، پلار/ ساتونکی ) تاسو ته عرض کوم چه زما ماشوم/ماشومه ____________ د جنسي اړیکو صحي لاربنود پلان شوو درسونو څخه لیرې کړئ:

**1 خوښه/اختیار** (تول هغه شیان چه نه غواړئ ستاسو ماشوم/ماشومه پکې ګډون وکړي، په نښه کړئ):

- ★ 1 لوست: آبي رنګ د نارینه لپاره، ګلابي رنګ د ښځینه لپاره... او یا دا دي؟ (پر ښځینه او نارینه جنس خارجي تاثیر)
- ★ 2 لوست: د جنسي اړیکو لاربنود، سلوک او پیژندنه: زه څرنګه احساس کوم، زه څه کوم، او زه څوک ( د جنسي اړیکو صحي لوست)
- ❑ 3 لوست: هر څوک خپلي عضوي لري ( ښځینه او نارینه د حمل اخیستو سیستم)
- ❑ 4 لوست: د زیږیدو اساس ( جنسي اړیکه نیول، د یو انسان حمل اخیستل)
- ❑ 5 لوست: STI Smart ( د ناروغی نښې، درملنه، او د STIs/HIV ناروغیو مخنیوی، له طبي پلوه دSTIs/HIV په هکله کره او سم معلومات تر لاسه کول )
- ❑ 6 لوست: HIV/AIDS ( ددې امراضو د استملاک خاص معلومات، د HIV/AIDS نښې، علامې او درملنه )
- ❑ 7 لوست: د حمل څخه د ژغورنې اساسات: (له طبي پلوه د حمل نه د ځان ساتنې د درملنې کره او سم معلومات، د کنډوم استعمال، د اضطراري حمل په صورت کې عاجله مرسته )
- ❑ 8 لوست: څه به وشې که چیرې ... ؟ ( د حمل نښې او علامې، د حمل اختیار او خوښه، له طبي پلوه د حمل اخیستو کره او دقیق معلومات )
- ★ 9 لوست: د خطر نښې او علامې: د ناوړه ګټه اخیستو او جنسي زیاتي باندې ځان خبرول ( جنسي زیاتی، د جنسي زیاتي څخه غلطه ګټه اخیستل، د اړیکو تاوتریخوالی، جنسي تکلیف ورکول، جنسي قاچاق )
- ❑ 10 لوست: په زیرکتیا او هوښیاری سره خپل تصمیم نیول ( دا ډول تصمیم نیول چه د زیرکتیا په لرلو سره د ډېرو او چټو خطرونو څخه انسان وژغورل شي)
- ❑ 11 لوست: راځئ چه د جنسي اړیکو په هکله خبرې وکړو ( خبرې اترې او داسې کړنې چه د صحت لپاره متضرره نه وي)
- ★ 12 لوست: د کالیفورنیا (CA) څخه ساتنه : د یو شاهکار ساتل (د ناوړه ګټې اخیستو ډولونه، قاچاق، شخصي حدودو ساتلو ته اړتیا، د ناوړه ګټې اخیستو په صورت کې د راپور ورکولو اهمیت، او د باور وړ نفر پیدا کول )

- ❑ زه غواړم چه زما ماشوم په پورته یادو موضوعاتو کې د هر رنګه سروی او معلوماتو څخه لیرې شي.

**2 خوښه/اختیار:**

- ❑ زه غواړم چه زما ماشوم/ماشومه د جنسي صحي اړیکو د هر ډول درسي پلانونو( تول ۱۲ لوستونه دي) ، پوښتنواو هر ډول نامعلومه سروی څخه لیرې شي.

زه پوهیږم چه خپل ماشوم/ماشومه د یاد درسي پلان څخه کوم چه د ایالت د قانون له مخې جوړ شوی دی، خپل ماشوم/ماشومه ترې لیرې کړم. او دا هم پوهیږم چه ددې ټاکل شوو درسونو پرځای ورته نور د صنف دنده یا کورنی دنده ورکړي.

____________ ____________
نیټه د مور، پلار لاسلیک/ ساتونکی

* د کالیفورنیا EC 51932 مطابق، د ښځینه او نارینه جنس، د جنس پیژندنه، د جنسي اړیکو مخنیوی او یو چاته د متضرر کولو درسونه چه د ستوري په نښې سره ښودل شوي دي د لیرې کولو وړ ندي.

Office/Teacher Use Only:
Date Received: ____________ Received By: ____________
*Please keep opt-out forms on file for the duration of the current academic year.*

Sacramento City Unified School District

# د نه شاميلدو/نه ګډون فارم (هايي سکول)
## د جنسي اړيکو صحي لاربنود
*په ډېره دقيقه توګه ولیکئ*

دا فارم د يوې رسمي اعلاميې په صورت د ځوانانو د حقوقو د ساتنې ® 3Rs په هکله ده چه د کاليفورنيا د صحي قانون له مخې جوړه شوې ده. ددې فازم د تسلمیدو څخه د مخه په آنلاين شکل درسي پلان او ويډيوګانې پدې (http://www.scusd.edu/chya) ويبسایټ کې وګورئ.
**دا فارم د ډکولو څخه وروسته د ښوونځي مدير او يا د زده کونکي ښوونکي ته وسپارئ.**

د ښوونځي نوم: ______________________ د ښوونکي نوم:______________________

---

زه، ______________________ ( مور ، پلار/ ساتونکی ) تاسو ته عرض کوم چه زما ماشوم/ماشومه
______________________ د جنسي اړيکو صحي لاربنود پلان شوو درسونو څخه ليرې کړئ:

**1 خوښه/اختيار** (ټول هغه شيان چه نه غواړئ ستاسو ماشوم/ماشومه پکې ګډون وکړي، په نښه کړئ):

★ 1 لوست: ښځينه او نارينه جنس پيژندنه ( جنس، جنسي هويت، د جنسي اړيکو تمايل )

❑ 2 لوست: د جنسي اړيکو لپاره تصميم نيول ( مهارتهای تصميم گرفتن، تجزيه و تحليل تاثيرات)

★ 3 لوست: حقوق، احترام او مسئوليت: له دوی څخه پرته جنسي اړيکې مه نيسئ ( رضايت، اجبار، د احترام اړيکې، مذاکره او پاملرنه، د جنسي اړيکو څخه د انکار کولو مهارتونه)

❑ 4 لوست: د يو پلان تصميم نيول او ساتنه: منع کول او يا د STI د مخنيوي تګلاره (د STI/HIV خطرات را ټيټدل، په بشپړه توګه له نورو سره د STIs/HIV په هکله تبصره کول)

❑ 5 لوست: د STI د ټسټ په هکله هوښياريدل (د STI ټسټ کول، درملنه او مخنيوی، د ټسټ سرچينو او د درملنې ځايونو ته لاسرسی او د HIV د بدنامۍ په هکله ژورې پلټنې)

❑ 6 لوست: HIV په اوسني عصر کې: ټسټ کول او د نن ورځې درملنه! ( د HIV/AIDS تر لاسه کول، درملنه او مخنيوی – چه د ارتجاعي وايروسونو درملنه او مخنيوی مخکې له دې چه رامنځته شي )

❑ 7 لوست: خپله خوښه او نظريات وپيژنئ ( د حمل څخه مخنيوی چه پرهيز هم پکې شامل دی او ټولې هغه لارې چارې چه د FDA لخوا تاييد شوې وي )

❑ 8 لوست: پر اغېزناک ډول د کنډوم استعمال ( په داخلي او باندني(ښځينه او نارينه) تناسلي آلو باندې د کنډوم صحيح استعمال)

❑ 9 لوست: زما د حامله کيدو څه حقوق دي؟ د زېږون په اړه پرېکړه کولو او بې له پلانه حمل اخيستل )

★ 10 لوست: آيا دا ناوړه ګټه اخيستل دي که چيري ... ؟ ( د بېلابېلو اړيکو ټينګولو په صورت کې ناوړه ګټه اخيستل، ناوړه ګټه اخيستل څرنګه وپيژنو او بايد څنګه ځواب ورکړو، د ځوانانو د اړيکو نيولو سرچينې )

❑ 11 لوست: زما ژوند، زما پرېکړه ( بهرني پيغامونه چه په جنسي اړيکو نيولو باندې پرېکړه کوي، ددې پيژندل چه د جنسي اړيکو ټينګولو په هکله د چا سره بايد خبرې وشي )

★ 12 لوست: کاليفورنيا وژغورئ: پوهه شئ او انساني قاچاق وپيژنئ ( د جنسي اړيکو او کار قاچاق، د استخدام تکتيکونه، قانوني اړخونه، کلتور او رسنۍ په څه ډول خلک د خپلو لاس ته راوړلو (استحصال) څخه بې حسه کوي )

❑ زه غواړم چه زما ماشوم په پورته يادو موضوعاتو کې د هر رنګه سروی او معلوماتو څخه ليرې شي.

**2 خوښه/اختيار:**

❑ زه غواړم چه زما ماشوم/ماشومه د جنسي صحي اړيکو د هر ډول درسي پلانونو( ټول ۱۲ لوستونه دي) ، پوښتنواو هر ډول نامعلومه سروی څخه ليرې شي.

---

زه پوهيږم چه خپل ماشوم/ماشومه د ياد درسي پلان څخه کوم چه د ايالت د قانون له مخې جوړ شوی دی، خپل ماشوم/ماشومه ترې ليرې کړم او دا هم پوهيږم چه ددې ټاکل شوو درسونو پرځای ورته نور د صنف دنده يا کورنۍ دنده ورکړي.

______________________ ______________________
نېټه د مور، پلار لاسليک/ ساتونکی

* د کاليفورنيا EC 51932 مطابق، د ښځينه او نارينه جنس، د جنس پيژندنه، د جنسي اړيکو مخنيوی او يو چاته د متضرر کولو درسونه چه د ستوري په نښې سره ښودل شوي دي د ليرې کولو وړ ندي.

Office/Teacher Use Only:
Date Received: ______________________ Received By: ______________________
*Please keep opt-out forms on file for the duration of the current academic year.*